پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۵/۰۶/۰۶

# پنځه ډالۍ

## (د حاجي محمد نوزادي نوي چاپ شوي آثار)




په دې وروستیو کې د ښاغلي نوزادي د نه ستړي کیدونکو هلو ځلو په پایله کې د ده پنځه عنوانه کتابونه له چاپه را ووتل. که له یوې خوا یې په ناروغه وجود په لیکلو، ژباړلو او تخلیق باندې ډیرې ستړیاوې ګاللي دي، نو له بله پلوه یې په چاپ، خپرولو او د سپانسورانو په لټون پسې هم ښه پوره ځان ستړی کړی دی. دا پنځه عنوانه کتابونه دا دي:

۱ـ انسانان ولې یو بل مچوي؟
۲- د وزیر فتح خان او د ده د کورنی تاریخی رول په سدوزي دولت کې
۳- د کوه نور الماس له کومه راغی او چیرته ولاړ؟
۴- د ځان طبیب
۵- بریتور آشنا

نوزادي د خپل نوي شعري جونګ(بریتور آشنا) تر څنګ و توانید چې خپل څلور نور کتابونه چاپ کړي. پټیل شوي ده چې د ۲۰۱۵ کال د جون په اوومه نیټه د همدې پنځو نویو چاپ شوو کتابونو د مخکتنې محفل د ډنمارک په آغوس نومي ښار کې جوړ شي. دا محفل باید د یوې فرهنګي ټولنې یا فرهنګي موسسې لکه راډیو، تلویزیون،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

چاپي خپروني، ويبساتونو او يا کومې خپرندويي ټولنې له لوري جوړ شوی وای، مګر هيڅ يوې مسولې موسسې يا آدرس دا کار ونه کړ او بيا هم په خپله نوازادی او د نوزادي شخصي ياران او د ده د آثارو، افکارو او شعر مينه وال وتوانيدل چي د مخکتني دا محفل جوړ کړي. زه علم اوفرهنګ ته، پښتو ژبې او ادب ته د نوزادي صاحب دا هڅې ستايم او د نوزادي د چاپ شوو آثارو له سپانسورانو نه مننه کوم چي د چاپ بار يي پر اوږو اخيستی دی.
د نوزادي د آثارو چاپيدل نه يوازې ده ته، د ده کورنی ته، بلکې ټولو فرهنګيانو ته، علم او ادب ته يوه لاسته راوړنه او برېا ده چي زه په اول کې ده ته، د ده کورنی ته او بيا ټولو فرهنګيانو ته د دې بريا مبارکي وايم.
د فلمونو پرانستل او د کتابونو مخکاته اوس د نړی په کچه په يو دود باندې بدل شوي دي، په پرمختللو ټولنو کې چي د کتاب اخستني او لوستني کلتور موجود دی، د مخکتنې غونډې د کلتوري ارزښت تر څنګه، يو څه تجارتي بڼه هم درلودلای شي، خو زموږ په هيواد کې بر عکس کتاب ډير ځلې د خرڅلاو په نيت نه چاپيږي او د مخکتنې غونډې يې هم د کتاب خرڅلاو له پاره نه، بلکې موخه يې تر ډيرې اندازې پورې د کتاب او ليکوال يا شاعر پيژندنه او قدرداني وي.
په افغانانو کې د کتاب د مخکاته دود پخوا دومره نه و، اوس اوس يو څه دې دود ته پام ور اوښتی دی. زما د مالوماتو له مخې په علمي او هنري ډول د کتاب مخکاته دود د شپيتمي لسيزې په پيل کې له دولتي او رسمي موسساتو نه جلا په کابل کې د يوې نيمه پټې فرهنګي حلقې له خوا رامنځ ته شو. هغه وخت به چي د کوم يار دوست کتاب چاپ شو، نو د چاپ شوي کتاب ليکوال يا شاعر به په کوم کور کې شاعر اوليکوال دوستان ياران سره راټول کړل او يوه يا دوو تنو به پر چاپ شوي کتاب باندې د نقد په ډول خبرې کولې.
کله چي په وطن کې رنګارنګ بادونو زور واخست، فرهنګي ياران دوستان سره خواره واره شول، هر څه ګډ وډ شول، بيا نو څوک چيرې ولاړل او څوک ...
کتابونه به چاپ شوي وي، مخکتنې به هم شوې وي، ما به هم ګډون په کې کړی وي.څو غوره بيلګې يې دا دي:
ـ په ماسکو کې د پير محمد کاروان د «چنار خبرې کوي» د شعري ټولګې د مخکاته په پلمه د ۱۹۹۸ کال د جنوری په يو ديرشمه نيټه د څو تنو فرهنګيانو له خوا يوشانداره محفل ونيول شو چي د مقالو، شعرونو او خاطرو ويلو په ګډون د استاد يار محمد عليزي له خوا د يوه سندريز پروګرام په ترڅ کې، د ګل پاچا الفت، غني خان غني، حمزه شينواري، پير محمد کاروان او ځينو نورو شاعرانو شعرونه د موسيقۍ په څپو کې واورول شول.
ـ د ډنمارک په وايله نومي ښار کې د ځينو نورو فرهنګي کارونو تر څنګ د محمد صفر خواريکښ د ډنمارکي پښتو قاموس(ډنمارکي پښتو سمندرګی) د مخکاته محفل، د ۲۰۱۰ کال د اګست په ۱۴ مه نيټه.
ـ د ۲۰۱۲ کال په جون کې د ډنمارک په آغوس نومی ښار کې د ابراهيم نعيمي د «... او لا ګلونه سوځي» کتاب د مخکاته محفل.
ـ او دا دی اوس(د ۲۰۱۵ کال د جون اوومه) د نوزادي د پنځو ډاليو د مخکتنې محفل.
په نوره نړی کې د مخکتنې محافل اکثرآ د کتاب د خرڅلا له پاره وي، خو زموږ دا ننی محفل کې نه کوم کتاب خرڅيږي او نه هم د شهرت له پاره دی، دا محفل يوازې د ليکوال او شاعر د قدر دانی په غرض او د کتابونو د پيژندنې او د کتابونو پرمحتوياتو باندې د بحث له پاره جوړ شوی دی.
نوزادي دزدکړو اومسلک له مخې يوانجنير دی، خو د ژباړې، ليکنې اوتخليق پهډګر کې يې هم د خپل ژوند ډيره برخه او وخت کارولی دی. زه نه غواړم دلته د نوزادي پر بيوګرافی باندې څه و وايم، مينه وال کولای شي د ده بيوګرافي په دې لينک کې ولولي:
[http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?46](http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?46)
دغه راز زه نه غواړم چي د ښاغلي نوزادي دغه چاپ شوي آثار د نقد په تله کې وتلم. د مهاجرت په دې چاپيريال کې، د نا خوالو د توفانونو په دې اړو دوړ کې زه ځان ته دا حق نه ورکوم چي پرته له دې چي ليکوال او شاعر ته څه حق او امتياز ورکړو د هغه نيمګړتياوې د هغه په مخ کې کتار ودروو او له کړو مثبتو شيانو نه يې هم زړه ور تور او پيښمانه کړو. په ټول کې زما نظر د ننی مخکتنې او د ښاغلي نوزادي د آثارو په باب داسې دی لکه د استاد اسدالله غضنفر د دې خبرو په شان:
«په ډېر ښه اثر کې هم داسې څه شته چې نيمګړتيا يې وګڼو او په ډېر بې اهميته اثر کې داسې څه موندلای شو چې ويې ستايو. که د کتاب يومخيزه ستاينه کوو، اوربدونکی يې ممکن ونه مني او تبليغات ورښکاره شي. که يې يومخيزه غندنه کوو، نه يوازې بې عدالتي ښکاري بلکې د مخکتنې د غونډې اصلي غوښتنه يکې تر پښو لاندې کيږي.»

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

http://www.taand.com/archives/32362
د حاجي محمد نوزادي پر ژبارو او علمي کارونو باندې ښايي نور دوستان د خپلو مسلکونو په رڼا او تجربو له مخې يا وغږيږي او يا مقالې وليکي. ما د نوزادي پر تخليق باندې څو کرښې ليکلې دي چې د ده په نوي شعري جونګ( بريتور آشنا) کې راغلې تجربو ته اشاره ده.
ښاغلي نوزادي مخکې له دې نه چې خپله دويمه شعري ټولګه(بريتور آشنا) چاپ ته وليږي، له ما نه يې هيله وکړه چې د ده پردې شعري ټولګه باندې د مقدمې په ډول خپل نظر وليکم. ما دا کار وکړ او خپله ليکنې ته مې سر ليک ورکړ:
د توتکۍ له وزرو(د نوزادي د شعر په بڼ کې).
دا مقاله يا دا مقدمه اوس د ده په همدې شعري ټولګه کې چاپ شوې ده او په دريو برخو کې ما پخوا په بريښنا پڼو کې خپره کړې ده:
http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_de_totakay1.pdf
http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_de_totakay2.pdf
http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_de_totakay3.pdf

د بريتور آشنا د مقدمې په يوه برخه کې د نوزادي  شعر ته ما داسې اشاره کړې ده:
څه کم څلورلسيزې شوې چې زموږ ټولنه اوخلك دجګړې ښامار،دناپوهۍښامار،دبې اعتبارۍ ښامار،د ځانځانۍ ښامار اوڅه نوروخطرناکوښامارانوچيچلې‌دي او له «دکن» نه څه چې، له ټولې دنيا نه پاړوګان ورته راغلي دي،خوپردېښامارچيچلې ټولنه اوخلکوباندې يې دم اومنترتاثير نه دی کړی.هرڅوك چېهرچيرې دي زيږزبيښلي، غمجن دي اولوری ورنه ورك دی .له هستونکوشاعرانو نه خپل يار،دلدار اوحتی دار هم ورك دی.خپل لښکريې،دلغاتولښکريې هم ورنه مروردی اولکه دافغانستان خلك دخزانودپاسه وږي، تږيږپراته دي،خپل لښکريې،دخپلولغاتودخزانې يوتورى يې مرستې ته نه راځي چېدخپل حزين اوغمجن زړه پيغام په کې ونغاړي اوچيرته يې دکوم اوريدونکي دغوږاويا دکوم لوستونکي دسترګونذرانه کړي .نوزادی هم دفرهنګ په همدې زيږزبيښلي بڼ کې خزان ځپلی ولاړ و، دپيرمحمد کاروان دعا خدای قبوله کړه چې ويلي يې و:
«راشه درحمت بارانه ښار اخيستی اور دی ... »
نا څاپه درحمت باران ووريد اوپه همدې اړ ودوړکې چيرې دکومې توتکۍ له  وزرو نه درحمت اوبه دنوزادي ستونې ته وروڅڅيدې،شاعرانه عاطفې ستونی يې لوندشو،تاند شو،دشعرغوټۍ په کې غوټه شوې اودادی اوس دغه غوټۍ غوړيدلې دي  اوستاسو په مخ کې پرتې دي.
کله مې چې دنوزادي دشعرونودا ټولګه(بريتور آشنا)، (نوزادييې بريتور آشنا بولي اوزه يې د توتکۍ له وزرو بولم) ولوستله،ترټولو ډير مې«دتوتکۍ له وزرو» نومیشعرخوښ شو، نوځکه مې دخپلې مقالېسرليك هم له همدې نامه نه په استفادې سره وټاکه .
نوزادي صاحب دتوتکۍ له وزرونه د اوبو دڅڅلو کيسه د «بريتور آشنا» په مقدمه کې راوړېده، زه يې دبيا ويلو اړتيا نه وينم، دا چې له علمي پلوه به دتوتکۍ له وزرونه داوبو څڅلپه زدکړه اوپوهه کې موثره وي اوکه نه، زه فکرکوم چې دا مهمه نه ده، مهمه دا ده چېدداسې دود يا عقيدې پيروي،دزده کړې اوپوهې په لور يومثبت حرکت اونيك فال دی .
د دې شعري ټولګې له لوستلو وروسته زه دې پايلې ته ورسيدم چې د توتکۍ لهوزرو نه دشاعر په ستونې کې له څڅول شوو اوبو نه درحمت باران جوړ شوی دی،دنوزادي په ذهن کې  يې دشعر آلهه بيا په ګډا سر کړې  ده او دهغې د ګډا او سندرو پايله دشعرونو دغه ټولګه(بريتور آشنا)ده چې ستاسوپه لاس کې ده.
د شعرونو په دې ټولګه کې داسې شعرونه راوړل شوي دي چې زما شعري ذوق يېيو څه را خړوب کړ، نو لومړی به يې دشعر د انځورونو دګډا په دايره کې، دشعر د يوڅو انځورونو په ښکلا باندې سترګې خوږې کړو، بيا به خپل بحث پسې وغځوم :
دتخيل ملا، دژبې ماتيدل، دپيغورمار، دليونتوب باران، ماته ژبه، په دارپسېدمنصور ژړل، د شونډو پټاسه، په ښو بنده اوښکه، د توبې کرل، د ګريوان کور ته دتښې وروړل او ...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولـئ

په خپله «دتوتکۍ وزر» نومی شعرچې تاسو ولولئ،هلته ليدل کيږي چې شاعر دماشومتوب خوږي اوپاکي دنيا ګۍ ته ځي او دهغه وخت اوهغه ځای د خاطراتو پهيادولوسره دخپل اوسني ژوند تپل شوي دردونه اوغمونه ټکوروي. وګورئ:

«مـــاشـــومـتــوب څــه بــاچاهي وه
مــوږ بــه تــل لــوبــي کــولــي
کـاشـــــکي آ د خـــتو کـــور وای
چې تـــيـرانـــو کـــي يــي ځـالــي
تـــــوتـــکـــيـو جـــوړولــــي
کـاشـکـی خـورمـي راسـره وای
تــوتـکـۍ بـــه مـــو نـــيـولي
لـــه وزرنـــــه يــي پـــر لـــپـه
اوبـــه مـــاتـــه راکــولــــي
چې مي خـلاص ذهن بنايسـتـه شي
سبـــقـونـــه چـي مـي زده شـــي
چـــي مـــي بـيـا خـــور ته ووايـــم
چـــي را ګـيـره تـوتـکـی کـــړي
پـــر وزر يـــي اوبـــه را کـــړي
بـيـا يـي مَـچ پـــر کـکـرۍ کړي
ګـونـدی دا ځـل را له خلاص کړي
د زړګـــي بنـــد بنـــد رګــــونه
ګــوندي دا بــــه را ټــکور کـــړي
پـــري نــاسـور نــاسور زخـمونه»

په دي ټولګه کي نوزادي خپل فکر هم د آزادو شعرونو په قالب کي او هم د غزل په قالب کي وړاندي کړی دی. دی توانيدلی دی چې خپل فکر په دواړو قالبونو کي لوستونکو ته ورسوي. دا يي د غزل په قلب کي يوه غوره بيلګه ده:

## شور

پــــــه ايـــــرو نـــــه ســــــوزم زه اور لټــــــوم
ځـــــم د ســــکون لــــه کـــوره شـــور لټــــوم
دمـابنــــــامـو اســـــتازی مـــــــه راليـــــــږ ئ
دســــــــباوون پرنيلـــــــــي ســـــــپور لټـــــوم
دمــــــړه ســــــاحـل لــــه قبرســــــتانه وځـــــم
پـــــه تـــوپـــاني ځـــپو کـــي کـــور لټـــوم
زخـمــــي يـــادونــو زړه زخـمـــــی کـــــړ
اوس بــــه کـــوم زخـــم تــــه ټکـــور لټـــوم
دزاړه يــــار زيــــن کــــړي آس پــــه تمــــه
د جانـــــان پــــل د جانـــــان لــــور لټـــوم
چــــي مــــي پــــه درد دســــوي زړه پـــوهـيـږي
فـــــراق ســــيځـلي لکــــه ســــکور لټـــوم
زنـځـيـر دعـقـل دي جنــون مــات نـــه کـــړ
نـــــوزادي ســــتا پـبنوتـــه بــــه نـــور لــټـــوم

http://www.taand.com/archives/29931

رند نوزاديکله کله دتيرو شاعرانو زاړه کارول شوي انځورونه سره نغاړي، مروري يياونوي بنکلي تصاوير ورنه جوړوي او له ځانګړي شاعرانه رندی سره ځان ته فتواوي‌صادروي چې نفلي روژې دشونډو په پټاسو نه ماتيږي. وګورئ:

ماښام آذان په بهانه مي ګوره مه ځـنډوه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

نفلي روژې په پتاسو دشونډو نه ماتيږي
نوزادي له آزاد شعر نه قافيه وال ته ډيره پاملرنه کړې ده. په قافيه يي زوراچولی دداوپه شاعرانه مهارت سره د قافيي کچکول په غاړه دشعرله ملکي نه دانځورونو خيرغوارې، ترڅو دځپلي تللی، بايللي ځوانی يادونه تازه کړي او پر خپلو ټپونو باندې د شعرنرم مرهم کيږدي اوځپل بوډاتوب سره هم دهمدې شعري انځورونو په زوراومرسته ګوتي ومرورې .
په دې ټولګه کي دقافيه وال شعربني نموني ميندلای کيږي، خو د« ماهي ګيراوپاچا» کيسه يي اوج ګټلای شو .اوسني پښتوشعرته ادبيوهان رزمي ـ تغزلي شعر ويلای دی، او دنوزادي په دټولګه(بريتور آشنا)کي دواړو برخو ته پاملرنه شوی. د رزمي شعر ښه بيلګه يي « نمک حرام دوران» دی چي دافغان ملت د رزمونو، ميرانو او ناخوالو غوره نمونهيي په دوو ګوتوکاغذکي راغوټه کړې ده:

## نمک حرام دوران

کـــوم رويبـــار بـــه بيـــا ديـــار د کوځي راشـــي
چي پيـغـام يـي وچـو شـونـډ و تـــه موسکـــا شي
کـــوم مـيرويـس بـه بيا ګرګين په وينوسور کـړي

http://www.taand.com/archives/30041

په شعر کي د نوزادي غوښتني او پيام ښکاره او برالا دی نوزادي دخپل ژوند ټولي تجربي،خاطرې او ديوالونه په سوکانو وهي، ځوابونه ورنه غواړي اوپه خپلو شاعرانه چيغو سره غواړي د خاموش اکثريت له دايرې ښځه لومړی ځان او بيا خپل نور د کتار ملګري را وباسي او راويښ يي کړي، دهمدې هدفـپه خاطر چغي وهي:

نـــور د عقل له بازاره بـــه راوځـم
ليونـوغوندي له ښاره بـه راوځـــم
د تقديرپه ګوتو ځيري ګريوان سره
هـوښـيـــارانـو لـه کتاره به راوځم
تـــر ايرو لاندې بخـرکی نه پريوزم
و لـمبـوتـه له انـګـاره بـه راوځم
په ليمو کي به مي مينه يار ته يوسم
له قاصده، له رويبـــاره به راوځـــم
د بريښنا په دود به ځم د يار ترګلی
دتيـارو د يـون له کاره به راوځم
چی شمله می د ايوب بيا جګه نه کړه
مـــلالی د غـاړې هـاره بـه راوځـــم
دلمربښارکي به د پيغلو اتڼ جوړ کړم
تـورو شپو کي له خـماره بـه راوځم
پښتنوته به کړم ږغ «کښنتي دوبيږي!»
و اقـرارتــه لـــه انـکـاره بـــه راوځـم

http://www.taand.com/archives/30123

کيدای شي په يوځانګرې بحث کي د نوزادي دشعرونو پخواني ټولګه (دورانګو جنازې) او ددې ټولګې(بريتور آشنا)شعرونه يوله بل سره پرتله شي، خو زه دلته دا کار نهکوم. دومره وايم چي دنوزادي دشعرونو دا جونګ دده دنويو شعري تجربو يو تازه پيشکش دی.
دنوزادي دشعرونو دا ټولګه دده دژوند د دردونو، رنځونو، ماتو، هجرتونو،يأسونو د دورې محصول تخليقات دي، چي په کي په ښه توګه دده دزړه اوضميرغبرانځور شوی دی.په رسا ژبه خپلي ځواني پسي افسوس کوي اوله يوه رنځوونکي حالت سره لاس ګريوان دی، خوله دې ټولوکړاوونو اوستونزو سره،سره په ده کي بيا هم دمينيجذبه ژوندی ده، دوطن دميني جذبه، دخلکو د ميني جذبه اودده د خپلي ورکي مينيجذبه .
څو ورځي مخکي د پښتو ورځ په غورو او نارو سورو ولمانځل شوه، د احساساتي لمانځلو تر څنګ پر پښتو ژبي باندې څو تنو ريښتينو زړه سواندو د دې ورځي د لمانځلو په خاطر داسي ليکلي وو:
«د پښتو ژبي د لمانځني په وياړ

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

ما پخوا هم لیکلي او ویلي و: ژبه په تشو نارو، سورو او چغو نه پانګمنه کېږي – ژبه باید سیاسي – اقتصادي ، فرهنګي شي .
زه هیله لرم چي هر څوک د خپلي مورنۍ ژبي د لمانځني ، پالني ، روزني او پانګمن کول حق ولري، خو ژبه په تشو نارو ، سورو ، چغو او هغي ته د لویو ستاینو په ورکولو نه پانګمه کیږي او نه وده کوي . ژبه د علمي ، تخلیقي آثارو په رامنځ ته کولو او د غوره اثارو په ژباړلو ژبه کيږي او تر ټولو مهمه دا چي ژبه باید په غوره توګه سیاسي – اقتصادي ، فرهنګي شي ...»
https://www.facebook.com/profile.php?id=100001882552459&fref=nf
«که غواړئ ژبه مو پیاوړې او له سیالانو سره سیاله شي، کتاب وړیا مه غواړئ، ویي پیرئ چي لیکوال يي په نس موړ شي او بل کتاب درته ولیکي. د هغي او دغي ورځي نمانځل کوم ځای نه نیسي.»
https://www.facebook.com/bahijothmani?fref=nf
او دا کار دا دی ښاغلي نوزادي تر سره کړ. خپل کتابونه يي چاپ او خپاره کړل او خپلي مورنۍ ژبي ته يي په نارو سورو او شعارونو نه، بلکي عملا خدمت وکړ. نور يي پر تاسو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ